**AFGHAN GERMAN ONLINE**

http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین



مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.


حشمت ناصري ۲۰۲۰/۰۶/۰۱

# زما پر شخصي ژوند د کرونا ویروس اغیزې



ښاغلی حشمت ناصري

زه حشمت ناصري د کابل ولایت د شکردرې ولسوالۍ د بویه زارې د کلي اوسېدونکی یم. ۳۵ کاله عمر لرم او اوس د کابل ښار په پنجصد فامیلي سیمه کې ژوند کوم. کله چې عالي تعلیمات او لوړې زده کړې مې په ختمیدو شوې له ډېرو هڅو وروسته مې په یوه حکومتي اداره کې دنده واخیسته او له شپاړلس کاله راهیسې په بیلابېلو حکومتي ادارو، پراختیايي پروژو، مدني ټولنو، خصوصي سکټور او همدا راز تمویلوونکو بنسټونو سره کار کوم.

د وخت په تېرېدو؛ کاري بوختیا او مسوولیتونه مې کرار کرار زیات شول او دې ته اړ شوم ترڅو د مسوولیتونو د ښه او پر وخت ترسره کولو لپاره خپل شخصي او رسمي وخت ځانګړی کړم. دا کار زما پر شخصي او ټولنیز ژوند بده اغیزه پرېښوده؛ له کورنۍ او ټولنې سره مې واټن پیدا شو او په تدریجي ډول په یوه ماشیني انسان بدل شوم.

کورنۍ او ملګرې مې رانه خوابدي ول چې هغوئ ته مې د خبرو لپاره وخت نه درلود. کله چې له یوې داسې نیوکې سره به مخ شوم له ځان سره به مې ویل چې کورنۍ یوازې پرما دا حق لري چې دوی ته پیسې وګټم او مالي ستونزه یې حل کړم او ملګري باید په دې پوه شي چې وزګار نه یم او کاري بوختیا مې له حده زیاته ده؛ په دې خبرې به مې ځانته یو ډول برائت ورکړ او بالمقابل ملګري او کورنۍ به مې ملامت کړل.

په دې سره نه یوازې دا چې زه په کورنۍ او ټولنه کې منزوي شوم بلکې زما د کورنۍ نږدې غړي بالخصوص زما مور له یو ډول رواني ناروغۍ سره مخ شول او د دې ناروغۍ لمنه کرار کرار پراخه شوه. د وخت په تېرېدو زموږ اقتصادي وضعیت په مثبت ډول بدلون وموند؛ خو زما دا چلند زموږ د ګډ ژوند پر ارزښتونو بده اغیزه پرېښوده؛ خندا او خوشحالي نوره له منځه لاړه، نور زما شخصي او رسمي ژوند به له خپګان سره مل وو او کله به چې کور کې وم تل به مې دا هڅه کوله چې د کورنۍ له غړیو لرې په یوه خونه کې پاتې شم.

څو میاشتې وړاندې د چین په ووهان ایالت کې د کرونا یا (COVID-19) په نامه یو وژونکی ویروس پیدا او دا ویروس په تدریجي ډول د افغانستان په شمول په ډېرو هېوادونو کې خپور شو.

حکومت د دې ویروس خپرېدو د مخنیوي لپاره پرېکړه وکړه ترڅو د کابل په شمول په څو مهمو ولایتونو کې حکومتي اداري تر یوې مودې لپاره قرنطین شي. د حکومت د دې پرېکړې پر اساس په کابل کې زموږ وزارت هم وتړل شوه او موږ دې ته اړ شو ترڅو په کور پاتې او خپل رسمي چارې له کور څخه تنظیم کړو.

د ۱۳۹۹ کال د وري په ۱۵ مه زه په کور پاتې شوم او په لومړیو ورځو کې کور ناسته راباندې سخت تمام شو او تل به مې له ځان سره ویل چې دفتر د فکر او خپګان بدولو لپاره راته ښه وو. په لومړیو ورځو کې سربېره پردې چې زموږ وزارت قرنطین وو خو کله کله به مې خپل د دفتر چارې په وزارت کې ترسره کولې.

د یوې اونۍ په تېرېدو، کرار کرار د کورنۍ له غړیو سره مې ناسته زیاته شوه، ماشومانو سره مې لوبې کول پیل کړل، پر ګډ دسترخوان مې ډوډۍ خوړله او د وخت په تېرېدو ډېری به له مور سره پاتې او د ژوند پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې کولې.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ورځ تر بلې د مور او کورنۍ د غړیو پر خوله خندا راښکاره شوه، خوشحالي ورو ورو موږ ته مخه کړه او ژوند د یوې میاشتې په پرتله بدولون وموند. قرنطین د دې لامل شو ترڅو د ژوند هیر شوي ارزښتونه بېرته احیاء او د ګډ ژوند څخه خوند واخلم.

سربېره پردې چې کرونا ویروس د خلکو په تېر بیا زموږ د بې وزله هېوادولو پر اقتصادي ژوند بد تاثیر وکړ او دوی یې له راز راز ستونزو او ننګونو سره مخ کړل خو برعکس زما پر شخصي ژوند یې بل ډول اغېزه پرېښوده او ماته یې په ژوند کې لوی درس راکړ.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ